
خوږي خبري
ادبي ټوټې او لنډکي شعرونه
دويم ټوک
Ketabton.com
ليکوال:
محمود حميدزی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دکتاب پېژند پاڼه

نوم:(خوږې خبرې)دویم ټوک

لیکوال: ډکټرمحمود حمیدزی:

ټایپ اوډیزاین: ډکټرمحمود حمیدزی:

دپوښتي ډیزاین:مسلم اڅکزی

دخپریدونیټه:۱۴۰۴ه ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

دليکوال خپاره سوي اثار

1{په سمندر کي دملغلرو لټون}

ټولنيزې ستونزې او دحل لارې يې

دفکرونوجوړښت اوهغوئ ته وده ورکول

2{روڼ سيند}

لومړیشعري ټولګه

3په کايناتو کي دقرآنکريم علمي معجزې

د ذرو څخه درکهکشانونو د اللهﷻ مخلوقات

4دانسان په بدن کي دقرآن کريم علمي معجزې

دانسان دبن دحجرو څخه درنسجونو دنسجونو څخه درغړو دغړو څخه دربدن

پوري: هراړخيزطبي مالومات او دعقدې دلا کروړ کولو درسونه

5{دالماسو پنډ}

دپښتومتلونو د ويلوځايونه اوعلتونه

6{ژور اندونه}

دويمه شعري ټولګه

7{ په ژوند کي دبرياليتوب 50رازونه}

8{ څنګه ژوند وکړو}

دنړئ دپوهانو او برياليو وګړو دسلګونوويناوو ژباړه

9{ خوږې خبرې}

لنډکي شعرونه او ادبي ټوټې

10{ ننګوونکي پوښتنې اوځوابونه}

سلګونه طبي،ساينسي،جغرفيوي، بيولوژيکي،ذهني او ټولنيزې پوښتنې

11خوږې خبرې دويم ټوک

ادبي ټوټې اولنډکي شعرونه

12دالماسو کان، هراړخيزمالومات

13څنګه ژوند وکړو دويم ټوک

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنړۍ دپوهانو او برياليو وګړو دسلګونووېناوو ژباړه

14اړينې سپارښتنې
15خوږ سيند دريمه شعري ټولګه
16 خوږې خبرې دريم ټوک
ادبي ټوټې اولنډکي شعرونه
17څنګه ژوندوکړو دريم ټوک
دنړۍ دپوهانو او برياليو وګړو دسلګونووېناوو ژباړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه دې خوب کې دمخ دليدو په هيله سترګې پټوم، هغه خوبونه مې درنګينو څخه ډک وي کومو کې چې ستا خوښه کړي لارې باندې ورانديې دبريا لور ته دروم.

*

انسان هيڅکله خپلو ټولو هيلو او موخوته نه سي رسيداى، خوښ ،بختور او برياليې هغه دي چې زړه يې په خپلو درلودونکو نعمتونو ډاډه او مطمين سو، قناعت وکړ او دهرې تيريدونکي شيبې څخه يې خوند واخيستئ او ګټوره يې کړل.

انسان ولې هميشه يوازې دخپل ځان په غم اوفکر کې وي ؟
علت يې دادې چې دې په نوروانسانانو پوخ اونه ماتيدونکي باورنه ويني
نوځکه هغه کې دامفکوره دومرپخه سوې ده
چې يوازې ژوند دخپل فکرسره سم مختته وړې اوغم اوفکردخپل ځان ورسره وې دنوروونه
خوټول انسانان هم دپورته خاصيت درلودونکې نه دې
ځنې ژوندهم دنوره لپارکوې



(c) ketabton.com: The Digital Library



زه هڅه کوم یادونو کې دې ځان ډوب کړم
هیڅکله دې یادونه پرینږدم
ستا په یادونه کې برياوې دي
ستا په ښکلاګانو کې ژور اند او دهغوئ جوړښتونو کې فکر کول
دسمندر په تل کې دملغلرو موندل دي
***

نړۍ راته هرورځ دردونه راکوي کله مو دځان په شان جوړول غواړي کله رانه خپه وي کله مو ستړیا غواړي کله موږ دنړۍ څخه خپه یو هره شیبه خپل ځانګړنې لري او بریالي هغه دي چې دنړۍ دشور په منځ کې یې خپل ځان هیر نه کړ او خپل درښتنې او حقیقي لویي موخې لپاره یې زیار وایستی
موږ چې ارزښت ورکړ
هغوئ خپل په غرور سره موږ ته ځواب راکړ،
خو خبر نه وه چې غرور:
دانسان د ورسته پاتې والي،را لویدلو او ټیټیدلو سبب کیږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



مخ کې دې دنړۍ ټولې ښيګڼې برياوې او ژوندونونه په پوره څرګند ډول مالوميږي!!!!
افسوس زموږ پرحال چې:
سترګې مو ستا ښکلا ګانې نه سي ليداى او مغز مو ستا ښکلا نه سي درک کولى....
هله به بختور، ګټونکي، خوښ او تل پاتې سکون ومونډو چې:
ستا دمخ درناګانو ښغلې مو.....
سترګې ښه ووينې،
مغز مويې درک کړي او زړونو مو په رښتيا هم ستا درناګانو په عنکاس خپله هره درزا وکړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



دوګړو سره ښه سلوک کول ستا شخصيت نوروته لوړ ښيې او ددرناوي وړدي ګرځوي.
انسان ته نه ښايي چي په خپلو خبرو او لاسونو نورو انسانانو ته ازار ورسوي.
هغه وګړي چي دنيکو اخلاقو لرونکي وي دټولنې په منځ کي دخوښيو ډک ژوند لري او برياليتوبونه يې په برخه وي.

***

زه هڅه کوم يادونو کي دې ځان ډوب کړم
هيڅکله دي يادونه پرينږدم
ستا په يادونه کي برياوي دي
ستا په ښکلاګانو کي ژور اند او دهغوئ جوړښتونو کي فکر کول
دسمندر په تل کي دملغلرو موندل دي

***

نړۍ راته هرورځ دردونه راکوي کله مو دځان په شان جوړول غواړي کله رانه خپه وي کله مو ستړيا غواړي کله موږ دنړۍ څخه خپه يو هره شيبه خپل ځانګړنې لري او بريالي هغه دي چي دنړۍ دشور په منځ کي يې خپل ځان هير نه کړ او خپل درښتنې او حقيقي لويي موخې لپاره يې زيار وايستی
موږ چي ارزښت ورکړ
هغوئ خپل په غرور سره موږ ته ځواب راکړ،
خو خبر نه وه چي غرور:
دانسان د ورسته پاتي والي،را لويدلو او تيتيدلو سبب کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما خوب وليد ستا سره ناست يم
مخ ته مو دخوږو او بو چينه بهيږي
پښې مو په رڼو اوبو کي ځوړندې وي
شاوخو ورڅخه دميليونونو کالو پخواني خو ډېرځوان او ښکلي
کاڼي چاپيره وي.
***

هرلوري ته زرغونې ونې وي
ښکلي څانګې يې نرم او خوږ نسيم نڅوي
مرغان راته دژوند نا ويل سوي کيسي کوي
موږ ديؤبل په سترګو کي ګورو
دنړۍ ټولې خوښۍ يؤبل ته ليږو
دژوند د غمونو او دردونو څخه ډېر ليري يو
زړونو کي مو دمينې سمندر د باور په لوړ ځوک د خپل تل څخه
دسکون ملغلري را کاږي
او د تشيال لورته يې په ګل پانو کي نغاړل سوي د برى دشاهباز
په منګلو کي استوي.
***

موږ دښکلا په تمه ستادنومو نو اميلونه جوړل کړل
زړه کي مو ولوستله
دا مو يؤه هيله ده بس چي بريالي سو هلته
چي لمر مو تږي نه کړي
چي دبريښنا په شانته ژر تري تير سو
چي اور موونه سوځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



يخ مو ايره نه کړي
کرږي يې ونه ورو
ماغزه مو ونه ايشي خپل زړه مو ونه سوځي
چي دبڼو نو خاوندن وه اوسو
ماڼۍ مو هرلوري وي خوارږه شراب وڅښنو
شدې هم ښه پريمانه
دګلو سيل وکړو
دنڅه ځوانې ولرو
هيڅ غم مو زړه کي نه وي
ستر خوښي وموند
ددې لپاره هروخت
ستا په نامه باندي موږ
ژبه لنده ساتو
زړوکي مو کرکه وژنو
سرونه ټيټ ګرځو
ستا يادونه کوه
ستا تل ستاينه کوه
مينه مو زړه کي ساتو
تل يې پالنه کوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



څراغ چي بل سي خپل شاوخوا رڼا خپروي،پتنګان ورڅخه تاويږي، او زړونو کي دخوښۍ احساسات نڅوي.

***

وګړي توپير کوي
هو خو دا هم بايد ومنو چي نړۍ هيڅکله دښو او بدو انسانانو څخه تشه نه ده
يؤه خبره ننيو انسانانو کي خورا ډېر ده چي مادياتو ته دمخکنۍ څخه په زياته کچه ارزښت ورکوي
ديو هې، اخلاقو، رښتنولی څخه پورته نن ډېر وګړو ته ماديات دي او دا خبره يؤ خواشنوونکي رښتيادي

***

هغه چي بد يې در رسولي وي او بيا يؤ کار بد وګڼې هغه چار ښه او دخير وي.

***

مينه دي هغه خوږ احساس دئ چي...
ستا دمئينانو دزړونو خزان وهلو بڼونو ته
بيا بيا
دتلپاتي ژوند اوبه ورکوي
او نه پريږدي زړونه يې په سپيرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دزړغونتيا ښخه په ناهيلو سو دبنتو بدل سي!
ځوک چي پر تامئين سو: هغه ربنتني او تلپاتي خوبني، بنکلا او سکون وموندئ!!!!
***
دا نړۍ دازموينې ډګر دئ او هرشيبه يې ځانګړي ده، دلته وخت دچا انتظار نه کوي وروړو خپل سيوري ټولوی او ډوبيږي،
بريمن هغه وګړي دي چي خپل دژوند سپينه پاڼه يې دبنيګڼو،نيکو اخلاقو، ګټورو چارو په ځان پسي ليکلو ډکه کړه.
***
که ترټولو لوی درسونه دخپل ځان سره زده کيږي، هيڅوک ترځان لوی بنونکی نه سي کيدای، مګر په اوسنيو انسانانو کي.
***
ما: دبنارونو دګڼې ګوڼې ږغ او شور په منځ کي د اوسيدونکو وګړو ښخه،
هغه وګړي چي د هسکو غرونو په منځ کي،
دغونډيو په لمونو کي
د خاورو ښخه دپيړو په مخکنۍ ډول او نقشه جوړو سوو جونګړو او خيمو کي يې ژوند کوئ،
ډېر خوبن،خوشحاله،روغ، دژونده راضي او دهرې شيبې ښخه ډېر خوند اخيستونکي وموندل
هغوی ساده خورکونه کوي،
ساده او سنتي جامې اغوندي،
د ونياوي غوبنتنې يې کمې دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډيؤبل سره دفريب، چم او چل بازۍ څخه ليري دي، کينه يې په
منځ کي کمه ده،

په لړو شتو خوښ دي،
بدني فعاليت يې ډېر دئ،
خپل خپګان: دډېره درده اوسوزه ډکو نارو،
ښکر، نل،شپېلۍ او دوتارو په درده ډکو ږغونو کي د نه
خلاصيدونکي تشيال لوري ته استوي او ډېر ساده،ډېر ساده
دخوښۍ ډک ژوند کوي.

***

تشيال: فضأ
ښکر يؤډول اله چي دروند ږع توليدوي
نارې: دپښتو دمنظم ادب برخه
نل، نۍ، دنل بوټي څخه جوړه يؤه اله
دوتاره: دنبرې ته ورته ږغ توليدونکي دموسيقۍ اله
ما: دښارونو دګڼې ګوڼې ږغ او شور په منځ کي د اوسيدونکو
وګړو څخه،
هغه وګړي چي د هسکو غرونو په منځ کي،
دغونډيو په لمونو کي
د خاورو څخه دپيړو په مخکنۍ ډول او نقشه جوړو سوو
جونګړو او خيمو کي يې ژوند کوئ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر خوښ،خوشحاله،روغ، دژونده راضي او دهرې شيبې څخه
ډېر خوند اخيستونکي ومونڊل
هغوى ساده خورکونه کوي،
ساده او سنتي جامې اغوندي،
د ونياوي غوښتنې يې کمې دي،
ديؤبل سره دفريب، چم او چل بازۍ څخه ليري دي، کينه يې په
منځ کي کمه ده،
په لږو شتو خوښ دي،
بدني فعاليت يې ډېر دئ،
خپل خپګان:  دډېره درده اوسوزه ډکو نارو،
ښکر، نل،شپلۍ او دوتارو په درده ډکو ږغونو کي د نه
خلاصيدونکي تشيال لوري ته استوي او ډېر ساده،ډېر ساده
دخوښۍ ډک ژوند کوي.
***

ستا يادونو کي هم خوښي او خوږوالى پټ دئ.
زما ديښتيو په منځ دزړه چلوونکي هغه وخت خپل چار لا ډېر
کړي کله چي زه ستا نوم اخلم او دخبرو په ژورو کي دي اند
کوم، ماغزه مي هغه وخت د بڼونو د ښکلاګانو انځورونه جوړوي
او دوجود هره ذره مي دخپل ځان ښاوخوا مينه خوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دګلونو سره خواکي تل پتنګان موندل کيږي: ما نه دي ليدلي چي بورګاني دي داغزو شاوخوا نڅاګانې وکړي او خپل شاوخوا دې رنګينه او خوښي بخښونکي کړي.
***

اغزيو ته زهر لرونکی حشري راځي او د خپل زورونکي چار لپاره ځان تري تغذيه کوي،
دهغوئ سره هيڅ خوارږه ويشونکي حشره مينه نه کوي،
هغوی  نفرت خورونکي،زورونکي او بدپالونکي دي.
***

ګلونه دخپلو خوږو وږمو دخورلو په مټ بې زيانه او ګټورې حشرې دځان څخه تغذيه کوي، ليدل، بويول او لمسول يې خوښي زيږونکي وي.
ښه نو موږ څه غواړو و اوسو؟
***



(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه کي دي مينه وکره!
ترڅو دنفرت وژونکي ګلونه پکښي را وټوکيږي او د خوښۍ
پتنګان دي په زړه کي دمهربانۍ په نڅا هر لورته ښکلا خپره
کړي!!
***

مينه هغه ځانګړی احساس دئ چي هغه زړونه چي کلونو دنفرت
په اور سوځلې او سوي سکور سوي وي هغوئ کي داسي
دمهربانۍ ونې زرغونه وي چي ګلونه يې هرخواته خوشبويې
خور وي او بوراګانې خپل شاوخوا ته په نڅا را ولي
***

مينه ډېر ښکلی احساس دئ چي هرزړه تري برخمن نه وي
دمين زړه لرل نړۍ انسان ته ښکلي کوي
هيڅوک نه سي روزلی درهغو چي تاسو خپل ځان ښه ونه
روزی، تاسو ته هيڅوک زړورتيا نه سي درکولی درهغو چي
خپله خپل ځان ته دلاوري ورنه کړئ، تاسو هيڅوک نه سي
خواشينی کولی درهغو چي خپل ځان خپله خواشينی نه کړئ،
تاسو هيڅوک نه سي ماتولی تر هغو چي خپله خپل ځان مات نه
کړئ.
هغوئ چي خپله دځان سره مرسته ونه کړي هيڅوک مرسته نه
سي ورسره کولی.
***

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا پرهرقدم باندي دنړۍ ترټولو ښکلي او ډېر خوشبو کوونکي ګلونه را ټوکيدلي دي، بريالي هغه وګړي دي چي ستا پر قدمونو خپل پلونه کښيږدي او دتيارو شپو څخه ستاپر ښول سو لار تير سي.

***

که ونه د ژمي دسړو بادونو سره ونه جنګيږي او دسپرلي دراتلو هيله يې زړه کي زرغونه پاته نه سي هيڅکله به دسپرلي خوږ نسيم لمس نه کړي.

***

ستا دميني احساسات مې،
دزړه خران وهلي بڼ کي،
ګلونه را وټوکوي
او وږمې يې
زما د وجود هر زخم ته ټکور سي!

***

په نړۍ کي دبريا هيڅ لورى او لار نسته
بيله هغه لارې څخه چي ستا لور ته تللې وي!
موږ به هله بريالي سو چي:
ستا خوا ته،
ستا پر قدمونو،
ستا پر ښوول سوې لار ګړندي ګامونه واخلو!
ستا منزل ته رسيدل:
دناپاينه خوښيو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه خلاصیدونکو نیکمرغیو، اوشیبو
نه بیانیدونکي ښکلا،
احساسول، تیرول اولیدل دي.
***
موږ دخوښیو دلاسته راوړلو لپاره
خپلې خوښې وپلورلي،
خو هیڅ وخت مو ونه موندلي، هو ...
خوښې مو ځکه نه سوای موندای چي:
موږ هغوئ دنورو په څهرو، خبرو او لاسونو کي موندلي
خو خبر نه وو چي:
زموږ خوشحالی زموږ پر وړاندې او حتا زموږ په بدن کي دي،
زموږ روغتیا،
زموږ نیکي چاري اونوم،
زموږ بشپړ وجود،
زموږ دلویې موخې لورته اخیستونکي ښکلي ګامونه
او زموږ شا وخوا:
رانه،مست بهانده سیندونه،
هسک او دغرور څخه ډک غرونه،
ښکلي نباتات،
سندري ویونکي الوتونکي،
په ښکلی سپوږمۍ باندي ښکلی او په شغلې خورونکو ستورو
باندي ډک هسک......
دا هرڅه که وغواړو موږ ته خوښي راکولی سي
او موږ ناخوښۍ ته نه پریږدي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه دغرونو دسره دښکلي سيند درنو او رڼا منعکسونکو اوبو څخه
خوند اخلم،
دغرونو هسک سرونه راته دخپلې خاورې دغرور او عزت
کيسې کوي،
ښکلی شمال راته ددې غرونو
د وياړه ډک تاريخ لولي.
***

که دښمن مو په لاسونو کي د غرورو فولادې ځينځرونه را
واچوي
او زړونه مو دنفرت په اور را وسوځوي،
هغه وخت به موږ ستربايلونکی سو...
دا به زموږ کمزوري وي چي:
دلوی دښمن په دام کي ګيرسو
او هغه ته دا فرصت ورکړو چي زموږ لاسونه،سترګي،اوعقلونه
راوتړي،
موږ اړ يو دهغه دغرور فولادي ځينځرونه دعاجزې په تبرونو
ټوټه ټوټه او دزړه دنفرت اور مو دمينې په ژوند ورکوونکو اوبه
مړ کړو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځومره به ښه وي چې په ځمکو مو نلان وکړو
دهغوئ دغتيدا ورسته يې بدنونه اره کړو قلمونه تري جوړ کړو
دهغوئ څخه دتورو کار واخلو کوم دښمن چې مو دغرور،وياړ
اوارزښتونو غلا کول غواړي لاسونه يې په قلمونو ور اره کړو

***

نسيمه دجانان دقدمونه لاندي سوي خاورې راته راوړه چې ښکل
يې کړم او زړه مې سکون پيداکړي
***



(c) ketabton.com: The Digital Library



زه دهغو ترټولوښو دراتلو هیله لرم چي ستا ومخته، دمستو خوږو سیندونو ډېرو یخو سیایو لرونکي ونې لاندي، دنه ستایل کیدنکي نسیم او د مرغانو دخوږو نغمو شور ته غوږ نیونکي ناست یو.

***

دژوند لوړي ژوري ډېري دي که غواړو په بریالتوب دژوند چاري مخته بوزو اړیو زړه داسي وروزو چي دډېرې خوښۍ او غم دزغم وړتیا ولري او خپل ځان ته عذاب ور نه کړي.

***

غواړم داسي ځوک وواسم چي یو ګل رابانديې مئین سي موږ دیؤبل خبرو ته غوږ ونیسو دیؤبل زړونه لمس کړو، دیؤبل فکرونه ولولو او داچي د یؤبل دسترګو په لیدو نه بیانیدونکي خوښي احساس کړو.



(c) ketabton.com: The Digital Library



زه دې هره شيبه يادوم،
زړه به مې ستا ديادونو په هيرولو ومري،
داسې لکه دګل پر نازک وجود چې دژمې دېره يخه شپه تېره سي
او نرم روح يې دسړو سيليو سره ملګرى
سئ او ډېر ليرې ترې سفر وکړي...
***
ستا يادونه او نظر زما دژوند دهر چار د سمون لامل دئ....
ته مې يؤازې مه پرېږده،
زما دژوند چارې ستا دپاره دي او زما دخوښۍ لامل ته يې!
****

دګلونو خواکې اغزې هم خړوبيږي او وده کوي،
خو ددې دوړو توپير داوي چې ګلونه
دماليار حسونو ته خوښۍ بخښي او اغزې دخپل پالونکي دښو بدله
په خپلو تيرو؛ زخم جوړونکو، تيرو څوزانو سره دهغه مهربانه
لاسونه زخمې کوي
هغوئ هيڅ وخت دښوبدله په ښو نه ورکوي، بلکې دښو بدله کې
بد کوي، څکه خو تل دګلونو درناوى کيږي او داغزو څوانۍ
خزانيږي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دګلونو په منځ کې یؤښکلې ګل د ځان ښودنې حرص را ګیر کړ
اړیې کړ چې خپل ښکلی مخ نړی ته ور وښیې او وګړی یې د
مخ په لیدو دخوښی او ارام احساس وکړي
خو دا نازک بشري ګل خبر نه وو چې دې ظالمې نړی کې
وګړی هسک سرونه نه پرېږدي
ګل چا همداسې هسک سر چا لیدل نه غوښتل د کلې ګل سر یؤ
ظالم مالیار غوڅ کړ او دخپل ځان سره یې یؤړئ دڅو ځل بوی
کولو ورسته یې په لاسونو کې سره ومروړئ او نازک وجود یې
ټوټه ټوټه په سپیرو خاورو کې وغورځوئ.

***

موږ کلونه دبریا په لټه ګرندې ګامونه اخلو خو زموږ زړونو کې
وه بریالیتوب په رسیدا کې شک وې درهغو به بریا ته ونه
رسیږو چې دهمدغه اوس ځان بریمن ونه ګڼو.
***

که ګلونه دخزان دراتلو خخه بیریدای:
هیڅ وخت به یې هڅه نه وای کړې چې دګرمې،پستې او خوږې
خاورې برسټن دځانه ایسته کړې او خپل ښکلي خوب ته په خپل
زرغونیدا دپای ټکی کښیږدي.
***

دسترګو دبدیو خخه یؤه یې داده چې موږ ته دبدرنګو زړنو
خاوندان ښکلي ښکاره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخ دي دوګړو په منځ کي هومره ښکلى او ځلاند دئ لکه په تیاره شپه کي چي دستورو په منځ کي دسپوږمۍ ځلانده او ښکلى مخ.
***

موږ دخپلو زړونو قاتلانو یؤ
زرځله مومات کړي او کړولي دي
دهغو خیالونو او هیلو په غشو مو ویشتلي ؛زخمي کړي او دردولي دي چي
هیڅ وخت منزل ته نه رسیدونکي او نه پوره کیدونکي وه
موږ دخپلو زړونو سره د بدن په ټولو غړو باندي ظلم کړی
ماغزه مو دردونه ورکوي
ژبه مو زخمونه ورکوي
او سترګې مويې ژوند اخلي
هو موږ لوی ظالمان یو
در هغو به بریالي نه سو چي دخپلو معصمو زړونو د زوریدنې څخه لاس وانه خلو او په یادونو یې زرغونه نه کړو.

***

زه دې در قدمونو
لاندي سوی مټ  خوښوم،
ستا در قدمونو
دلاندي سوې خاورې خشبو زما لپاره
دمشقو څخه ډېر خوشبویه ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما لپاره دي شتون هرڅه دئ
ستا په شتون، کتو او خبرو زه ډاډمن خوښ او دسکون خاوند يم
ستا يادونه مې زړه ماتيدا او زړيدا ته نه پريږدي
دخبرو هرويي دي زما دروح او وجود ترټولو ښه درمل دي
زه دي ديؤ توري لپاره ځان اورته غورځوم او وجود مې پري سوځوم.
***

زما کتل ليدل او اوريدل دي ستا لپاره سي
که داسي ونه سي: زه به ناکام،دلارې ښخه ورک او بدبخت يم.

***

دژوند خوند هغه وخت لمنځه ولاړسي چي خپل وجود دي درته په قهر سي، هره شيبه دي دردوي او نه دي پريږدي چي د لمر درنا دسپوږمۍ دځلا ښخه خوند واخلي.
***

ته به زما په برخه نه وي که نه زه او ته ديؤبل لپاره پيدا سوي وو زما او ستا روح يؤ وو او زموږ دزړه خاوره ديؤه ځای را اخيستل سوي وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مورې!
د تور زړو سره دهغوئ
دپاکو جامو او
مخونو په لیدو
او تیرایستونکو خبرو په اوریدو مله سو،
خو......
خبرنه وو چي
ددوئ زړونه د نفرت،
حسد او چل په اورنو تور سکور سوي
او دموقي په لیدلو
خپل دزړه د توروالي څخه ګټه اخلي او
زمونږ احساساتو
زړونو او باورنو ته به ایري راشیندي،
او
زمونږ دزړونو د توریدو هڅه به کوي.
***

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما خوښی لټولي خو هم دا لټون ماته درد راکوئ خبرنه وم چي
خوښی زما چار چاپیره دي بلکي زما په بدن کي دي
روغتیا،دسکون ډک زړه،ارا م وجدان،هو زما کورنی، زما
هیواد،ښکلی طبیعت،روښان لمر ،ځلانده سپوږمی دستورو ډک
هسک دا هرڅه زما لپاره دي زما دخوشحالی سرچینه زما
شاوخواته ده خو زه دومره درک نه لرم چي حس یې کړم
***

موږ
اغزو ته
دګلونو دکولو په هیله
اوبه ورکولي
او پالنه موېې کول،
خو هغوئ هیڅ وخت
وږمې خورونکي ګلونه ونه کړل...
زموږ لاسونه یې
په خپلو ظالمو منګو چو
زخمي زخمي کړل...
موږ ته یې دښیګڼي کولو داسي زده کړه راکړل
چي دګلونو سره دمیني کولو،پاللو او دهغوئ خړبولو ځخه یې
زموږ زړونه را مات کړل!

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ دي قدمونو ته ګلونه پاشل تا راته لارو کې اغزې وشيندل
موږ تيروتلي وو چي د مړغونو ښخه مو دخوږوالي هيله کړي وه
خبرنه وو چي کوبرا مار هيڅکله بې زهرو نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library



صدقه دي در خبرو سم!!!!
ستا خبرې دزړه دزخمونو ټکور دې....
خبرو کې دي دبرياوو چينې...
دښکلاوسمندرونه...
دهيلو ځپانده سيندونه...
دسهار خوږ نرم او خوځښت زيږونکى نسيم او
دخوښۍ بڼونه پټ دي،
ستا دخبرو تکرارونکي،
غوږ ورته نيونکي،
نورو ته رسونکي،
زړه ته دننه کوونکي،
ټوله بريالي دي،
ستا دخوږو خبرو
دستاينې
وييونه،
دهيڅ بليغ
او فصيح سره شتون نه لري!!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زدي دسترګو دليدو  په هيله هر شپه خپلې سترګې پټوم،
مالومه نه ده چي کله به دي زړه او روح ته د سکون بخښونکو سترګو په ليدو
سرلوړی او بختور سم!
***

مادي دهرې خبرې درناوی کړی،
هيله لرم ته به راته
دنفرت په نظر ونه ګوري
زما لپاره ستا يو ځل په مينه را کتل
دنړيو دټولو برياوو څخه ستره بريا
او دټولو خوښيو څخه خورا
ډېرډېره لويه خوښي ده!
***

څه څه نه سي کولی؟
کله چي دبدن دلويې حجرې،ژونکي څخه يې اووم ازاده کړه او دبدن دبل جوړښت څخه يې دانسان دبدن ترټولو کوچنی ژونکی ازاد کړ بيا دوئ دواړه سره يوځای کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلی څهره، پیچلي ماغزه او خپل تول نعمتونه یې پر ولورول
هغه بیا څنګه دا خبره کوي چي هیڅ نه سي کولی.
آیا دئ دخپل زړه په کوچني جوړښت چي یؤه اندازه بریښنا
تولیدوي واک لري ؟ نه نه یې لري،
دخورا ډېر کمزوري وجود لرونکی تیروتنه کوي چي ددې هرڅه
سربیره بیا هم سرغړونه کوي او خپل پرځان ظلم کوي.
نیژدې ده چي هغه جل جلاله قهر به درباندي وسي.

******

وګوره!
دستورو شغلې او ستا یادونه
دوړه زما د زړه ټکور دي،
زما دزړه ګلبڼ به
ستا دیادونو ماسیوا
په توپان وهلي دښتي
او یا
خزان وهلې بڼ بدل سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغه زړه بيلګه چې ستا دخبرو او يادونو دګلبڼ شمال ورباندې نه لګيږي دهغې وچې دښتې په څيردئ چې سلګونه کلونهورباند باران نه وي اوريدلی.

***

زړه مې غواړي چې
ديؤه زرغون غره په لمنه کې
دسيند په خوا کې کښينم،
داوبو دشور سره دي
ښکلی نوم زمزمه کړم،
ترڅو ښکلي قاصدان مې
د زړه څخه د را وتلو وييونو په اوريدو
خوښ سي
او تاته يې دويم ځل دروړسوي.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ پر ټاټوبي
دکتابونو خزان راغلی،
دکتابونو پاڼې هره ورځ رژيږي......
سپيره توپانونه
دکتابونو رښيې ماتوي
او د جهل سمندر ته يې:
دنابودۍ لپاره غورځوي!
***

ستا ديادنو سره مې
ژوره ملګرتيا ده،
موږ ديؤبل سره تل خبرې کوو:
ستاپه اړه،
ستا دخوږو خبرو او ښکلا په اړه،
ستا دښار دکوڅو په اړه چې
ستا په قدمونو ښکلي او قدرمنې سوي دي،
دهغو شيبو په اړه چې
ستا په کتو به دنه بيانيدونکي خوښۍ
احساس کوو!
***

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ګل چي ماليار يې،
دکتابونو د سيند په خوږو اوږنو اوبو خړو بوي
هيڅ وخت به هغه ګل،
دناپوهۍ خړې،چټلي او زهري  اوبه،
هغه په وژونکي،
زورونکي او را پرځونکي ناروغي اخته نه کړي
او نه به
دهغه دښکلو پاڼو
وږمې خوږونکی او ښکلی مخ بدرنګ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسترګو تور مې ستا لپاره نظرانه کوم،
ستا دلاس د جام يو غړپ اوبو ښکاک دنړۍ دټولو ښتو ښخه
ارزښتمن دئ.
***

زه
دخپلو هغه قدمونو ښخه
چې وړاندې ځي
او ستا د ناخوښۍ لامل کيږي
کرکه او نفرت کوم.
***

دقلم ښوک دهغې توري ښخه چې سرونه غوښوي ډېره تيره ده.
***

اندونه مې...
دستورو ښکلي اوځلاند نړۍ ته
ستا دخبرو په لوستولو او اوريدلو،
الوتنه وکړي،
د هغوئ ښخه
رڼا ګانې راوړي
او دژوند تياره اړخونه مې راته ځلانده ،
روښانه او رڼا کړي،
زړه ته مې خوښۍ ډالۍ
او سکون راته وبخښي!!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



که دژوند دګړنګونو ويره نه واى زړه به مې دغرور دکبله دسينې
څخه تښتيدلى واى.
***
هغه زړونه چې دنازکو ګلونو په خزان باندې دردېږي هيڅ وخت
دانسانانو بد نه غواړي.
منى مې نه خوښيږي،
ځکه نازک ګلونه دبوراګانو څخه بيلوي، بيلتون
دردونکى دئ،
زړونه مات اودردوي.
***

دکتابونو پاڼې،
زما وزړونه دي:
دهرې پاڼې په لمسولو مې،
خيال او اندونه لوړې الوتنې کوي:
د ښکلو جونګړو ته ځي،
ترڅو...
د زړه ګل بڼ ته مې،
د ډاډ او خوښى
ترټولو ښه
او بې اغزو ګلونو
تخمونه ډالى کړي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه دشپو په تاریکیو کې ستا داندونو او خبرو په رڼا ورکې لارې
موندم
***

خوښ او ډاډمن
ځکه یم
ځکه زړه،خیالونه اویادونه مې ستاسره دي
***

زما خیالونه
ستا دکلي لورته داسي بهانده دي چي:
هیڅ یؤ خنډ یې مخه نه سي نیولی،
درهغو چي ستا په خبرو او کړو کې اند کوم،
زه به دبریالیو وګړو په کافیله کې ګډون لرم!
***
که غماز مې داندونو په سیند کې زهر وپاشي:
زړه مې نه مري،
ځکه ستا دخبرو درمل مې زړه داسي کروړ کړی چي هیڅ
زهر وربانډي بده اغیزه نه سي کولی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ زړونه ياغي دي زموږ دوجود او مغز خبره نه مني دښتو
کي ګلونه او ژمي کي سپرلي غواړي هو خو دوئ هم تيروتلي نه
دي دوئ دژوند کړليچونه نه دي ليدلي د پښتيو په منځ کي د
دسرو وينو ځخه تغذيه کيږي

***

کله چي دوستان دي په تکليف، غم او درد کي وي هله به پوه سي
چي ولې ليونيان ليوني سوي دي.

***

انسان دخپلو غوښتونو په دامونو کي ګير او دهغوئ لمخي پيژندل
کيږي،
درهغو چي غوښتني او موخې يې ربښتنې،
ښې او غوره وي:
انسان به هم نيک غوره او ښه وي.
کله چي انسان دبدو هيلو موخو او غوښتونو لور ته مزل پيل
کړي:
بدو پسي بد کوي او دژوند سکون يې لمنځه ولاړ سي.
زموږ موخې او غوښتنې زموږ دشخصيت ښکارندوينه کوي.
ښيې پرځاى،
غوره او لويې هيلې او غوښتنې موږ ښه غوره او لوى کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يؤ ځل زما وخواته ستا په مينه کتل،
زما لپاره زما د ژوندونو ترټول ستره بريا او خوښي ده،
زه
ستا يؤ ځل دميني کتلو او ستا ديؤې مينه ناکي خبرې د موندنې
لپاره دنړۍ هره خوښې قربانوم سوځم.
***

شادى در هر لحظه وجود دارد اما هيچگاه به لذتى زندگى نمى
رسيم كه همان طور كه خوشبختى خود ميخواستم به ديگران هم
همانطور نه خواهيم
***
ځومره ښکلي او دشور ډک ستا هغه وييونه دي چي زړه ته
سيده لار مومي
او دزړه تياره ګوټونه داسي روښنانه او درڼا څخه ډکوي چي
بيا هيڅ وخت تياره هغوئ ته نه سي رسيداى،
ستا پر خبرو چي ځوک مئين سو،
هغه دنړيو ښکلا ګاني ومونډلي
او هيڅ وخت به بدرنګي
د هغه سترګي ونه وينې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړونه ديؤبل ږغونه اوري،
وييونه ديؤبل سره غيږه ورکوي،
اندونه ديؤبل سره خوږې خبرې کوي،
خوبونه` يې يؤبل يؤازي نه پريږدي
خو کله چي:
ددوو زړونو ترمنځ ديؤبل سره دربشتيا اوباور
په کروړو،
نه پري کيدونکو
مزو تړل سوې اړيکه وي.
هغه وخت خبرې،ليدل او خيالونه ديؤبل لپاره رنګين،
خواږه او ګلورين وي.
***
که د پوهي پر زلفو مئين او دکتاب پر مخ دي زړه بايلوئ:
هله به دي سترګي دباز په شان ليدونکي او زړه به دي دزمري په شان پياوړی سي،
هو!
د ناپوهۍ ښکار مه جوړيږه،
ښکار وکړه:
د هغو وييونو ښکار چي,
توري يې ښکار کړي وي،
داسي به ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروړو دجملو او دپوهې دسمندر دلويو ښکار کوونکو په ډله کي تاج داره ښکاري سي.

******

زموږ ژوند بريا ده!
ناکامې هغه وخت وينو چي ژوند بېله زحمت ګاللو تېرکړو!
شيبې خورا ډېرې ګړندی دي!

***

دطبيعت په لمن کي ځومره ښکلاګانې راغونډې سوي دي:
وګوره!
دها ګل پر نازک بدن دشبنم څاڅکي،
دابو خوږ، نرم ، زړه وړونکی ږغ،
د رڼوستورو ځخه ډک هسک،
دسپوږمۍ خندانه څيره،
دغرونو دغرور ځخه ډک هسک سرونه،
دالوتونکو خواږه ږغونه،
په نرم شمال باندي دښکلو دنګو ونو رپانده پاڼې...
دا هرڅه دخوښۍ زيري راکوي!
زموږ اندونه پراخ او عطرين کوي!

****

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشی ها زندگی
دروجود سالم
دور از بیماری
نهفته است
هرگاه که ازخواب بیدار میشم
وجودم از بیماری آزاد باشد
آن روز برای ما
روزی خوشی است
***

دژوند خوښۍ په روغ او دناروغۍ څخه لیري بدن کې پټې دي
هرکله چې دخوبه راکښینم بدن مې دنارغۍ څخه خپلوکه وي هغه
ورځ زما لپاره دخوښۍ او نیکمرغۍ ورځ ده.
***

(c) ketabton.com: The Digital Library



شيبې تير ايستونكي دي:
موږ ...
دخپلو را راونو ملګرو؛
دراتلو لپاره خوښ كوي،
اوس راته ځان بدرنګه؛
دمړاوي،خزان، وهلي، تږي ګل په څير؛
ځان ښكاره كوي،
او ورو ورو مو د لاسونو څخه دابو په شان تويږي!
شيبې درواغجني دي،
همدا رواني شيبې هغه ترټولو ښكلي،
ارزښتمنې او غوره شيبې دي چي
زموږ څخه هرلحظه
لوږې الوزي
او راڅخه تښتي.
بريمن،بختور او پياوړي هغه دي چي:
خپلې همدا رواني؛ ژرتيريدونكي شيبې يې:
ارزښتمنې،
ښكلي او ګټوري كړي!
****

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور وينو چې بازان لوړي الوتنې کوي او دغرونو سرونه دهسک دلوري وينې،
خو...
دا نه وينو چې هغوئ
هره شيبه د مستو توپانونو؛
پياوړي بدنونه په خپلو وزرونو پرې کوي
پرلپسې او هرلحظه دهغوئ دپياوړتيا پر وړاندې درېږي او وړاندې خپل دموخې لور ته الوتنه کوي.
درهغو چې ستونزې ونه ګالو،
مبارزه،
هڅه او کوښښ ونه کړو،
مور نه سو لوړ يدلی او تل به مات وزرونه پر مځکه ناتوانه او ناکامه دخپل ځان سره په جګړه يو!

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا دلاس په جام اوبه کیدل او ستا دمهربانۍ کتل؛
ترټول ستره؛
هغه ډالۍ ده چې؛
ستا پر ښکلا مئین ته؛
د لویې،
سوځونکې ،
کړونکې ورځې
او دعمرونو دستړیاوو ښخه...
سکون ورکوي،
داسې ارام چې که کوم بختور ترې برخمن سي:
بیابه هیڅ وخت؛
هیڅ وخت؛
نا خوښه او بې سکونه
نه سي!!!!
*****

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې موږ ګلونو،پوهو ،برياليو او نيکو وګړو ته ګورو دهغوئ
چارو،کړنو کې اندکوو موږ دهغوئ دکړو ښخه خوښ کيږو
دهغوئ دچارو تقليد کوو ځان کې دهغوئ ځانګړنې پيدا کوو چې
دا چار خپله زموږ دخوښۍ،بريا او خپلې اره دندې ته دلا ښه
ژمنتيا لامل کيږي

**************************

هيلې موځکه نه پوره کيږي چې موږ ؛
دنورو هيلې پوره کيدا ته نه پريږدو؛
تر دې اندازې د نورو دهيلو وژونکي يوو چې:
دخپل شوق،ذوق لپاره؛
دمرغانو ښخه خپلواکي اخلو:
قفسونو کې يې زنداني کوو،
ګلونه شکوو او د هغوئ د ورمو ښخه دخوند اخيستلو لپاره يې په
لاسونه کې مروړو؛
خزانوو يې،
دونو دنګي تنې پرې کوو
خپل ځانته دناستې او آرام لپاره چوکۍ
ترې جوړوو......
هو موږ نه پريږدو چې زموږ پرته نور هم خپلو موخو ته
ورسيږي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ دهغو ورځو پوروړي اواحسانمند يو چي: ماغزه؛زړه اوبدن
مو موږ ته ازار رانه کړي، ومونه کړوي؛
دهغو ورځو پور،بدله به څنګه ادا او ورکړو چي دردونو مو
زموږ وجود  ته خپلواکي ورکړي وي
هوموږبايدهرشيبه مننه کوونکي وه اوسو:
داهرڅه دخورا ډېرې خوښۍ وړدي!
***
موږ: دزړه څخه دازغو
په ريبلو  ريبلو دخپل زړه کرونده کندې؛
کندې کړل،
زموږ زړونو کي اغزي
څکه رازرغونه او وپايدل چي:
موږ دهغوئ څخه دګلونو دکولو هيله درلودل
خو خبر نه وو چي:
اغزي  اغزي وي؛
که ګلونه هم وکړي:
ګلونه به يې،
زهرجن
اوزيان رسونکي وي!
***

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوګړو دځیرو څخه موږ؛
دهغوئ دکړو وړو په اړه نه پوهیږو؛
ښکلي بریښنا یو دنګه ښکلي ونه ایره او یو توره ویرونکي
وریځ پریوه سپیره مځکه یوه ښکلي ونه را زرغونه کوي.
****

وییونو کي دي ربنتیا اوښیګڼې پایل کیږي هیڅ بدې نه پسي
موندل کیږي؛ هر ویی کي دي د وختونو دستړیاوو هوساینې او
دنه رغیدونکو زخمونو درملنې پټې سوې دي!!!!
***

دځان دخوښی په پاره دطبیعت رنګینو ته کتل دهغوئ په اړه ژور
اندکول انسان ته تیریدونکي شیبې ښکلي کوي.
***

برای خوشبختی خود نگاه کردن به زیبایی های طبیعت وفک
کدن عمیق تر به او
لهزه ها را برای ما
زیباتر وخوش میگذارد
***

دکله نه چي مې؛
ستا خبرې اوریدل پیل کړي:
دزړه دبڼ ګلونو مې خپلې وړمې خوچنده کړي
او هر لورته یې خورول پیل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| خوړې خبرې | دويم ټوک |

دطبيت ملګرتيا مې دحسونو په پياوړتيا کي مرسته کړي او اوس دهرې ذرې درازونو په موندنه کي ژوراندکوونکی سوی يم،
طبيعت راته دارام،ښکلي،ګټه رسونکي او خوښي ورکولو چل زده کوي.

***

دازغو څخه وګړي همدمره هيله لري چي لاسونه اوپښي يې زخمي کړي خو خبر نه دي چي ازغي دګلابونو ساتنه کوي او نه پرېږدي چي ګلابونه څوک خزان او وشکوي.
***

وخت راته ښوونه کوي چي څنګه دوړو وړو خوښيو په خوند پوه سو خو هغه وخت کله چي زموږ څخه لويي لويي خوښۍ په نه پوهيدا ک تيري سوي وي

***
پوه سو چي څنګه دکوچنيو خوښيو شيبې هغسي چي ښايي وي لمانځو
خو هغه وخت کله چي موږ لويي د خوښۍ شيبې خفه کړي اودلاسه ورکړي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليک کې دي نوم
داسي ښکلی،روڼ اوځلانده وي
لکه دسره ګلاب پرمخ دشبنم څاڅکې.

***

ستانوم څومره ښکلی دئ کله چي مې ليک کې ستا نوم شتون
ولري ټوله وييونه داسي ځلانده وي لکه دګلاب پرمخ دسهار
اوريدل شبنم
***

زما لپاره دنړۍ لويه خوښي روغتياده

***

غواړم شيبې، کار،خبرې او ليدل مې ستا لپاره وي، زه دې دمينې
په سمندر کې داسي غوټه کيدل غواړم چي هر ساه مې ستا لپاره
وي.
***
ګلونه دځان دښکلا لپاره ستا دخبرو ورمې راغونډوي او دخپل
ښکلا وړانګې پري ځلوي.
***

(c) ketabton.com: The Digital Library



يؤازي نه يم:
ستاديادونوسلسلې مې؛
ملې دي.
****

تنها نيستم
سلسله های یادها تو همراهی می کنند
سپوږمۍ ته ګورم :
مخ کې يې ستا دښکلاګانو انځورونه جوړوم
اندکوم او دبریالیتوب اندونه مې دښکلاګانو ښارته الوتنې کوي.

***

ستا ديادونو  سلسلې مې دزړه دروزې بنيدلو ته نه پرېږدي.

*****

دسترګو په رازونو هر وګړی نه سي پوهيدای سترګې زما دهغو ويونو ژباړه کوي چې هيڅکله مې يې په اړه دزړه دتل څخه د را ايستلو هڅه نه ده کړې، وګوره زما سترګو کې څه لولې که ته رښتنی لوستونکی درک يې کړل او وګوره چې څه مې په کښې پټ کړي دي.
***

(c) ketabton.com: The Digital Library



دورځو شمېر ته حساب کوم خو خبر نه یم شیبې مې هره شیبه
ژوند غلاکوي افسوس څومره دزړ سوي وړ یم زما شیبې شیبې
زما د ژوند لنډکلونه جوړوي او زه ناخبره او غافله یم

****

موږ دزړه څخه دازغو په ریبلو ریبلو دخپل زړه کرونده کندې
کندې کړل، زموږ زړونو کي اغزې ځکه رازرغونه او وپایدل
چي موږ دهغوئ څخه دګلونو دکولو هیله درلودل خو خبر نه وو
چي اغزي اغزي وي او که ګلونه هم وکرې ګلونه به یې زهرجن
وي.
***

هغه رڼا چي دتولو رڼاګانو څخه ډېره
ځلانده،
ښکلې
او خوښې ویشونکي ده:
ستا دمخ څخه رابهیرې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



شيبې په شمار دي، هيلې بېشميره ، څومره به ښه سي چې شيبې مو دګلونو په وږمو معطري او هيلې مو دګلونو پر پاکو اوځلاند مخ دشبنم درنو څاڅکو په څير رڼې او دګل پاڼو غوندې پاکې دشمير وړ پيدا او په لاسته راوړلو کې يې خزان نه سو.

***

دقدمونو پر نښو دي
ښکلي ګلونه را ټوکيدلي دي،
څوک چي ستا پر تګ لوري
مزل کوي دهغوئ شاوخوا
دګلونو وږمې الوتنې کوي،
بې شتمنئ هغه وګړي دي چې:
ستا لار ونه موندې او دنه ستايل کيدونکو ښونو څخه يې روح:
ډېر ليري ولاړسي!!!!
****

زه په خپلو مغزو باور نه لرم چي ستا ښکلا دي ووينې، زه اندم زما ماغزه لاهومره نه دي پياوړي چي ستا دمخ دوړانګو درښاګانو دليدنې توان دي ولري.
***

(c) ketabton.com: The Digital Library



جالبه ده د څو پيسو لپاره خپل وجدان وپيرو، نيکي خرڅه کړو، بڼ دلاسه ورکړو او اور واخلو، خوږي اوبه چپه کړو او جامونه مو دترخو زقومو څخه ډک کړو، دنګه ځوانې او ستاينه نه کيدونکی ښکلی مخ داور دسردار په ويلې کوونکي بدن کي ونغاړو هو موږ هغه وخت ګټوکوونکي نه يو دا بابيزه ددې نړۍ پاتي کيدونکي ګټه ډېر ناکاره، بيخي ډېر بده او بې ګټې ده چي موږ يې دلويو او ناپايانو، سختو، زموږ په کوچنيو او لږ واک لرونکو مغزو دهغوئ دسختۍ حس وکړو
په خپلو ولو لاسته راوړو.
زه دخپل بې وسه ماته راغلي ناروغ سره چي اهونه يې کړندي، بدن يې دمياشتي دورځو دشمېر څخه دډېر تودوخې لرونکی، ساګانې يې دمياشتې دورځې دشمېر په اندازه ګړندی،دزړه درزا يې د دروومياشتو په شمېر او درګونو داوسيدونکي ځواک يې دپنځو مياشتو دورځو په اندازه وي داسي ظلم وکړم چي دهغه دژوند روان ته په کرار کرار دپای ټکی کښيږدم، هغه ته درمل نه زهر ورکړم، زه ولې خپل پيريدونکي ته دخپلي هڅې څخه دهغه داولادونو لپاره دکلونو نا کاره خواړه ورکړم، ولې دخپل کور خواته تللې لارې دجوړيدا لپاره ناسم مښلونکي او کمزوري جوړونکي وکاروم،ولې دخپل ورور دسترګو تور ته چي زما دلوړ مقام په پار يې ماته را استولی ناسم روزنه ورکړم،ولې دخپل لږې مودې دناستې،ستړې، لوړ حق لرونکي څخه دخپل کلي ټولنې او سيمې پلورونکي ګټه واخلم،وګړو ته دهوساينې پرځای شر او درد پيښ کړم.............

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو زما سره زما دهرې شيبې شمار کيږي والله زه به دخپلو کړو ځواب په ويرونکي، ګرمه لويه ورځ کي ورکوم بيا ولي دخپل را سپرل سوي چار،وخت او ځان سره بد وکړم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**